# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af


سه شنبه د ۱۳۹۸ د مرغومې درېیمه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۲۴مه | ۴۸۵یمه گڼه


2 017550 139621

## څېره

۴ مخ

### چارلز دیکنز



چارلز دیکنز د نړۍ په کچه مشهور لیکوال دی. هغه د داستاني ادب په برخه کې وتلی نوم دی. چارلز دیکنز په انگلیسي ژبه کې ناولونه پنځولي، د ویکتوریا د عصر مهم لیکوال، ټولنیز فعال او وړ کس و چې په خپل وخت کې یې خورا شهرت درلود.

# لومړنۍ پایلې او د کمېسیون اعتراف؛

## مولانا عبدالله: لومړنۍ پایلې له سرغړونو ډکې دي، شکایتونه دې و ارزول شي



۳

### د ټاکنیزو پایلو اعلان او پر سوله یې اغېز

۲ مخ

### د آسیا زړه- استانبول پروسه؛ پر افغانستان او سیمه یې اغېزې

۲ مخ

### د نړیوالې سوداګرۍ په سازمان کې د افغانستان د غړیتوب حقوقي ارزونه

۳ مخ

## د ننگرهار د دولتي ادارو عواید نږدې یو نیم میلیارد افغانۍ ډېر شوي



د ننگرهار والي شاه محمود میاخېل وایي، په دغه ولایت کې سږ کال د تېر کال په پرتله عواید نږدې یو نیم میلیارد افغانۍ ډېر راټول شوي دي.

والي که څه هم وایي چې په اداراو کې د شفافیت رامنځته کېدو له امله د دوی عواید لوړ شوي، خو سوداګر بیا وایي، پر دوی د ګمرکي تعرفو زیاتوالی هغه څه دي چې له امله یې د ننگرهار عواید د نورو ولایتونو په پرتله لوړ شوي دي.

د میاخېل په خبره، سږ کال د ښه مدیریت او شفافیت له امله د کانال او ښاروالۍ له عوایدو پرته، په داسې حال کې چې یوه نیمه میاشت ګمرکي چارې هم د ځینو پالیسیو له امله کمزورې شوې وې، په عوایدو کې ۱۴ سوه میلیونه افغانۍ زیاتوالی راغلی. نوموړی وایي: «ټول عایدات د ۱۳۹۷ مالي کال په پرتله په ۱۳۹۸ کال کې یو میلیارد، ۴۰۸ میلیونه او ۳۸۴ زره افغانۍ زیات شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې ننگرهار ګمرک هم د یوې میاشتې لپاره بند و او ځینې نورې ستونزې هم وې».

## چین: د افغان سولې له پروسې سره هر ډول همکارۍ ته چمتو یو

د چین د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د افغان سولې له پروسې سره هر ډول همکارۍ ته چمتو یو.

د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت مرستیال لویي ژویي د افغانستان په اړه له امریکایي متخصصینو سره په کتنه کې دغه څرګندونې کړې دي.

لویي ژویي ویلي چې دوی د افغانستان د سولې له پروسې سره هر ډول همکارۍ ته تیار دي او په دې برخه کې د سیمې د نورو هېوادونو همکاري هم مهمه ده.

د نوموړي په خبره، دوی هڅه کوي چې د افغانستان جګړه د خبرو له لارې حل شي او دغه هېواد ته دایمي ثبات راشي.

چین داسې مهال دغه څرګندونې کوي چې په بیجینګ کې د سولې بین الافغاني ناسته لغوه شوې او ټاکل شوې ورته یوه ناسته په جرمني کې تر سره شي.

تر دې وړاندې هم چین د افغان سولې په تړاو د همکارۍ ډاډ ورکړی و او له همدې کبله یې په خپل هېواد کې د بین الافغاني خبرو د ناستې لپاره زمینه هم برابره کړې وه.

د یادونې ده چې د افغان سولې په تړاو د امریکا او طالبانو خبرې هوکړې ته نږدې شوې او د دغو خبرو له وروستي پړاو وروسته د طالبانو یوه پلاوي له خپلو مشرانو سره د امریکا پر وړاندیزونو مشورې هم کړې دي، چې ویل کېږي د دواړو لورو تر منځ د هوکړې په صورت کې به لنډمهالی اوربند هم رامنځ ته کېږي.

## په یوه کال کې ۵۲۳ کابل ښاریان د جنایي جرمونو پر مهال وژل شوي دي



۲ مخ

## وزارت داخله: با اصنافی که از مواد غیرمعیاری و دودزا استفاده می کنند، برخوردی قانونی صورت می گیرد



وزارت امور داخله می گوید، مالکین شهرک‌های رهایشی، خشت‌پزی‌ها، حمام‌ها، سالون‌های عروسی، فابریکه‌های تولیدی، رستورانت ها و حوض‌های سونا و غیره مراکز تجارتی که از موادی سوختی غیرمعیاری و دودزا استفاده می کنند، با آنها برخورد قانونی می شود.

در خبرنامه یی که از سوی این وزارت به رسانه ها رسیده، آمده است که این مطلب در یک اعلامیه وزارت امور داخله ابلاغ گردیده است.

منبع افزوده است که در هنگام تسخین و استفاده مواد سوخت، از مواد که باعث آلوده‌گی محیط زیست و آلوده‌گی هوا می گردد، جداً خودداری نموده و به توصیه‌ها و رهنمودهای اداره ملی حفاظت از محیط زیست عمل نمایند.

وزارت داخله می گوید، در صورت تخطی، پولیس مطابق ماده ۸۰۷ کود جزا شخصی که مواد مضره یا مواد آلوده کننده را در آب، خاک یا هوا به اندازه‌ی که کیفیت فزیکی، کیمیاوی یا بیولوژیکی آنها را طوری که به انسان یا سایر موجودات زنده، گیاهان یا بناها مضر باشد، پخش کند مرتکب جرم محیط زیستی شناخته شده، به حبس متوسط محکوم می گردد و با متخلفین برخورد قانونی مینماید.

همچنان در خبرنامه اضافه شده است که وزارت امور داخله، الی یکشنبه (هشت جدی سال روان) به اصناف یاد شده فرصت می دهد تا از استفاده مواد سوخت غیرمعیاری و دودزا خودداری کنند.


Shigal English Academy

شیگل انگلیش اکاډمي

SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019

Easy English learning

DEL

TOEFL iBT

shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696

Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

دریـځ

## د ټاکنیزو پایلو اعلان او پر سوله یې اغېز

د ټاکنـو د لومړنیو پایلو اعـلان که په ټاکنیزه پروسـه کـې یـو بدلـون او پرمختـګ ګڼـل کېـږي، خـو ډېـری خلک پوښـتنه کـوي چې دا چـاره بـه د سـولې پـر روانـې پروسـې څـه اغېـز وکـړي؟ پـه ټاکنـو کـې د خلکـو د کـم ګـډون یـو لامـل هـم دا و چې خلکـو د ټاکنو پـه پرتلـه سـوله مهمـه ګڼلـه، نـو ځکـه اوس دا ورتـه مهمـه ده چـې دا چـاره د سـولې پـر پروسـه منفـي اغېـز ونـه کـړي.

له شک پرته چې ټاکنې، د ټاکنو څرنګوالی، د پایلـو ځنـډ او بیـا د لومړنیـو پایلـو اعـلان مخامخ د سـولې له روانې پروسـې سره تړلي دي. ډېـری خلکـو تمه لرله چې لومړی باید سـوله او بیا ټاکنې وشي، خو ولسـمشر غني هڅـه کوله چـې لومړی ټاکنـې وشي او بیـا نومـوړی د یـوه منتخب ولسـمشر لـه دریځه د سـولې خبـرو تـه ننوځي. د ولسـمشر غني غوښـتنه عملـي شـوه او لامـل یـې هـم دا و چـې امریـکا پـر طالبانـو فشـار راوړ چـې کـه یـې غوښـتې نه منـي، نو پـه افغانسـتان کې ټاکنـې کېـږي او پنځـه کالـه بیـا د سـولې چانـس نشـه. د دې تـر څنـګ، د ټاکنـو پـر مهـال د طالبانو او امریـکا تـر منـځ پـه خبرو کـې کـوم مهـم پرمختـګ نـه و شـوی. کلـه چـې ټاکنـې وشـوې، بیـا د طالبانـو او امریکا تـر منځ پـه خبرو کـې مهـم پرمختګ وشـو، لـه دې املـه چـې د ټاکنـو د پایلـو اعـلان له طالبانـو سره پر روانو خبرو منفي اغېز کولی شـوی، نـو ځکه د پایلو اعـلان وځنډېد. اوس چـې د طالبانـو او امریـکا تـر منـځ ډېـر څـه وروسـتي شـوي او یـوازې د اوربنـد پـه چـاره کـې طالبـان پـر خپـل دریـځ ټینـګار کـوي، نـو امریـکا غـواړي یـو ځـل بیـا پر دوی فشـار راوړي. لـه همـدې املـه د ټاکنـو لومړنـۍ پایلـې اعـلان شـوې، څـو طالبانـو ته وښـیي چـې کـه زمـوږ غوښـتنه نه منـی، نـو د ټاکنو پایلـې معلومېږي او افغانسـتان به پنځه کاله بیـا منتخب ولسـمشر ولـري چې لـه طالبانو سره د سـولې چانـس ورسره کمېـږي. اوس طالبانـو تـه یـوه لاره همداسـې پرانیسـتې هـم پرېښـودل شـوې ده. هغـه دا ده چـې د شـکایتونو کمېسـیون د کار تر پای ته رسـولو پـورې د امریـکا غوښـتنې ومنـي. طالبانـو تـه داسـې ښـودل کېـږي چـې کـه دوی دا غوښـتنې نه منـي، نو د راتلونکـو پنځو کلونو لپـاره د یـو منتخـب ولسـمشر ټاکل یـوازې د ټاکنیـزو شـکایتونو د کمېسـیون پرېکـړې ته اړتیـا لـري. کـه طالبـان دا غوښـتنې منـي، نـو بیا بـه د ټاکنیـزو شـکایتونو د کمېسـیون پرېکـړه ولسـمشر غنـي لـه ګټونکـي دریـځ څخـه را غورځـوي، ټاکنـې بـه دویـم پړاو تـه ځـي او دویـم پـړاو به هـم نه کېـږي. بیا به په افغانسـتان کـې د سـولې او نـوي جوړجـاړي پـر اسـاس یو حکومـت جوړېږي، چـې ورسره بـه د ټاکنـو پروسـه او پایلـې یـې یو مخ لغوه کېـږي.

پر همدې اسـاس په افغانسـتان کـې ټاکنیز بدلونونـه، لانجې، پرمختګونه او خنډونه ټول پـه قطر کـې د سـولې لـه خبـرو سره تـړلي دي. دلتـه ټاکنیـز پرمختګونـه پـر طالبانـو د فشـار لپـاره کارول کېږي او هلتـه بیا د خبرو پایلـې او پرمختـګ دلته د ټاکنـو پر برخلیک او پایلـو مخامخ اغېـز کوي.

# د آسیا زړه- استانبول پروسه؛ پر افغانستان او سیمه یې اغېزې

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

لومړۍ برخه:

د آسیا زړه- استانبول پروسـې د وزیرانـو اتمـه غونـډه د ۱۳۹۸ لمریز کال د لیندۍ پـه اتلسـمه د ترکیـې هېـواد پـه استانبول ښـار کـې جـوړ شـوه. یـاد کنفرانـس د افغانسـتان جمهـور رییـس محمـد اشرف غنـي او د هغـه ترکي سیال رجب طیب اردوغـان پـه ویناوو سره پرانیسـتل شـو. پـه دې کنفرانـس کـې د پنځلسـو ګـډون کوونکـو هېوادونـو د بهرنیـو چـارو وزیرانـو او لـوړ پـوړو چارواکـو، شپاړسـو د ملاتـړو هېوادونـو استازو او د آسیا زړه- استانبول پروسـې دوولسـو ملاتـړو سیمه ییـزو او نړیوالـو سـازمانونو ګـډون کـړی و. د آسیا زړه- استانبول پروسـې د وزیرانو کنفرانس پـه لـړ کـې د بحـث وړ اصلـي موضـوع سـوله، مشـارکت او سـوکالي وه.

پـه یـاد کنفرانـس کـې د یـادې پروسـې د لیدلـوري د نویـو ژمنـو پـه پـام کـې نیولـو سره یـوه اعلامیـه تصویـب او صـادره شـوه. وروسـتۍ غونـډه پـه داسـې حـال کـې تـر سره شـوله، چـې غـړي هېوادونـه یـې لـه ډېـرو اقتصـادي، سیاسـي، ترانزیټـي او امنیتـي سـتونزو سره لاس او ګرېـوان دي. د آسـیا زړه کنفرانـس غونـډه هغـه فرصت و، چـې غـړو هېوادونـو هڅـه کولـه چې په خپلـو منځـو کـې د بـاور فضـا رامنـځ تـه کـړي او د ګـډو همکاریـو لـه لارې شـته ګواښـونه محـدود کـړي.

**د آسیا زړه- استانبول پروسې مخینه**

پـه ۲۰۱۱ ز کال کـې افغـان حکومـت د ترکیې په همکارۍ د استانبول پروسـې د پیـل پـه موخـه هڅـې ګړنـدۍ کـړې، چې پایله یې د ۲۰۱۱ ز کال د نومبر په دویمه پـه انقـره کې د اسـیا زړه کنفرانس لومړنۍ غونـډه تـر سره شـوه. د اسـیا زړه کنفرانس ۱۵ دایمـي غـړي هېوادونـه لـري چـې پـه دې ډول دي: افغانسـتان، اذربایجـان، چیـن، هندوسـتان، ایـران، تاجکسـتان، قزاقسـتان، قرغزستان، سعودي عربستان، متحـده عـرب امـارات، روسـیه، ترکیـه، ترکمنسـتان، پاکسـتان او ازبکسـتان. د اسـیا زړه کنفرانـس کـې ١٦ نـور هېوادونه د مرسـتندویه غـړو هیوادونـو پـه توګـه غړیتـوب لـري او عبـارت دي لـه: نـاروې، پولنـډ، هسـپانیا، سـویډن، اسـټرالیا، کانـاډا، ډنمـارک، مـصر، فرانسـې، فنلنډ، جرمني، عـراق، ایټالیا، جاپان، انګلسـتان او امریکا. همدارنګه د ناټو، سـارک، ملګرو ملتونـو او اروپایـي اتحادیـې پـه ګـډون، دوولـس سـتر بنسـټونه او سـازمانونه هم د استانبول د پروسـې او اسیا زړه کنفرانس غړیتـوب لـري. د استانبول پروسـه د ځانګـړو موخـو پـه پـار رامنـځ تـه شـوې: د افغانسـتان او د افغانسـتان اړوند همسایه او د سـیمې هېوادونـو تـر منـځ د سیاسـي مشـورې، چـې موخـه یـې پـه افغانسـتان کـې د سـولې راتلـل او پرمختیـا ده.

همدارنګه د استانبول د پروسې د هوکړې پـر بنسـټ، د اسـیا زړه هیوادونو تـر منځ د دوامـداره مفاهمـې، همکاریـو او په لاسته راوړنـو ولاړو تعهداتو پر اسـاس، د باور فضا د رامنـځ تـه کولـو لپـاره دوامـداره تدریجي اقدامـات تـر سره کـول دي. پـر دې سر بېـره، هغه سـازمانونه، پروسـې او بنسـټونه چـې پـه افغانسـتان کـې کار کـوي یـا هم هڅـه کوي چې په افغانسـتان کې سـولې او ټیـکاو تـه زمینـه برابـره کـړي، د هغې تر منـځ د ښـې همغـږۍ د رامنـځ تـه کولو په موخـه هڅـه کـوي. د استانبول پروسـې د غونـډو لـړۍ دری برخـې لـري: د وزیرانـو پـه کچـه غونـډه، چـې هـر کال د اسـیا زړه هیوادونـو څخـه پـه یـو هیـواد کـې جوړېـږي. د اسـیا زړه کنفرانـس لـه پیـل څخـه دوه کوربانه او چلوونکـي لري؛ ځکه نـو دا کنفرانـس چـې د اسـیا پـه هـر هېواد کـې جوړېـږي، یـو کوربـه یـې همېشـه افغانسـتان وي، ځکـه د دې کنفرانـس د تمرکز برخه افغانسـتان دی، نو افغانستان د دې پروسـې او د اسـیا د زړه کنفرانس یو دایمـي کوربـه او چلوونکـی او کوربه هیواد یـې دویـم کوربـه او چلوونکـی دی.

پـه دې کچـه غونـډه کـې د هېوادونـو د لـوړ پـوړو چارواکـو پـه سـطحه تصمیمونـه نیـول کیـږي، د دې غونـډې پـه تعقیـب د سـام کنفرانـس جوړېـږي، چـې د پورتـه نیـول شـویو تصمیمونـو د پلـي کېـدو پـه موخـه عملـي ګامونـه اخلـي او درېیـم هم د سـیمې تخنیکـي ګـروپ دی، چـې هـر هېـواد د نیول شـویو تصمیمونـو او کړنلارو د پلـي کولو لپـاره خپل تخنیکي ټیمونه او ګروپونـه معرفي کوي، څو د شـویو وعدو او نیـول شـویو تصمیمونـو د پلي کېـدو لپاره پـه ګـډه سره کار وکـړي. پر دې اساس، د دې پروسـې او د اسـیا زړه کنفرانـس ټـول تمرکـز پـر افغانسـتان دی، چـې پـه ټولـه کـې پـر سـیمه ییـز ثبـات اغېـز لـري، د افغانسـتان اهمیت او پـه افغانسـتان کـې د ثبـات اړیـن والی تـرې له ورایه ښـکاري، د دغـه بهیـر اساسـي موخـه د ترهګرۍ پر وړانـدې ګـډه مبـارزه، د سـیمې هېوادونـو تـر منـځ د اعتـماد جـوړول، د سـیمه ییزې همـکارۍ پراختیا او په سـیمه کې د ثبات ټینګښـت پـه ګوتـه شـوي دي. اسـتانبول پروسـه څـو اړخیـزه ډیپلوماسـي ده. په څو اړخیـزه ډیپلوماسـۍ کـې بېلابېـل ښـکېل هېوادونـه پـر ګـډو ګټـو سـلا کېـږي او د تحقـق لپـاره یـې هلـې ځلـې کـوي.


اوسـمهال او د یادې پروسې په اتمه ناسته کې د سـیمې په کچه دوې اساسـي ګډې موخې موجـودې دي: اقتصادي پرمختګ او د ترهګـرۍ له منځـه وړل. دا چې په څو اړخیـزه ډیپلوماسـۍ کـې بېلابېـل لـوري دخیـل دي او هـر لـوری هڅـه کـوي چـې خپلـې ګټـې خونـدي کـړي، نـو وخـت نـا وخـت د ټولیزو ګټو تحقق له سـتونزو سره، ځنډ او حتـی له خنډ سره مخ کېـږي. اما پـر سـتونزو سربېـره، د اسـیا زړه کنفرانس- اسـتانبول بهیر لـه لارې د افغـان حکومت لاسـته راوړنې برجسـته دي. په لومړي ځل افغـان حکومت وتوانېد چـې د ترهګرۍ پر وړاندې سـیمه ییزه اجـماع رامنځ ته کړي. د کاسـا زر، ټاپـي، اورګاډو پټلـۍ او ... اقتصـادي برخـو کـې ملمـوس پرمختګونه شـوي دي. لـه دې لاسـته راوړنـو سربېـره؛ لا هـم د ترهګـرۍ پر وړانـدې د مبارزې په برخـه کـې ګډه هوکړه نه ده شـوې. په دې برخـه کـې توافق تـه نه رسـېدل تـر ډېره د یادې پروسـې د غـړو هېوادونو نه همکاري پـه ګوته شـوې ده.

**افغانستان او ګډه همکاري**

ګـډه همکاري هغه وخت مؤثره تمامېدای شي چـې پـه یـوه جغرافیـه کـې پراتـه هېوادونـه خپلـې ګډې غوښـتنې او موخې د ګـډو سیاسـي، اقتصـادي او د ترورېـزم پـر وړانـدې ګـډې مبـارزې پـه موخـه له یو بـل سره همـکارۍ تـر سره کـړي. همدې اصـل ته پـه کتو؛ افغان حکومت د سـیمې د هېوادونـو خاصتـاً د ترکیـې هېـواد پـه همـکارۍ هڅـې پیـل کـړې، څـو لـه یوې خـوا سـیمه ییزه همـکاري پیـاوړې کړي او له بلې خوا سـوېلي اسـیا له منځنـۍ اسـیا سره ونښـلوي. د ملـي یـووالي حکومـت پـه هڅـو سره دغـه هڅـې نـوي پـړاو تـه د ننـه شـوې. افغانسـتان د سـوېلي او منځنـۍ اسـیا تـر منـځ پـروت هېـواد دی، چـې د دواړو لوریـو تـر منـځ د پلـه حیثیت لـري. لـه دغـه پلـه څخه هـم مثبتـه او هم منفـي اسـتفاده کېـدای شي. لـه دې املـه چـې د تېـرو څلـورو لسـیزو پـه اوږدو کـې افغانسـتان لـه سـختو امنیتـي، اقتصادي او سیاسـي سـتونزو سره مـخ هېـواد پاتـې شـوی؛ د سـیمې پـه کچـه د یوه ګـواښ په توګـه مطـرح و؛ خـو د فعالـه سـیمه ییـزې همـکارۍ پـه پایله کـې کېـدای شي چې یـاد ګـواښ پـر فرصـت تبدیـل کـړی شي او د دې لپـاره هڅـې شـوې او اوس هـم روانـې دي. د ملـي یـووالي حکومـت هڅه دا وه چـې پـه افغانسـتان کـې د سـولې او ثبـات ټینګښـت او د ترهګـرۍ پـر وړانـدې مبـارزې پـه موخـه، سـیمه ییـزه اجـماع رامنـځ تـه کـړي. دغه اجـماع د اسـتانبول پروسـې د اسـیا زړه کنفرانـس لـه لارې د رامنـځ تـه کېـدو هڅه وشـوله، څو پـه دغه پروسـه کې ټول ښـکېل هېوادونه او نړیوال سـازمانونه پـه افغانسـتان کـې د سـولې او ثبـات پـه راوسـتلو او لـه ترهګـرۍ سره پـر ګـډې مبـارزې سره سـلا شي، چـې ډېـر یـې پـه دې سره سـلا شـوي هـم وو، خـو ځینـو هېوادونو چې پـه ظاهـر کې یې پـه افغانسـتان کـې سـوله راتلـل د خپـل ځـان پـه ګټـه بلـل، خـو پـه اصل کې یې د افغـان جګـړې لـه اوږدېـدو سره رغنـده همـکارۍ تـه ادامـه ورکړلـه چـې اوس هم ادامـه لـري. د ۲۰۰۱ ز کال د سـپټمبر له پېښـې مخکې او تر اوسه پورې افغانستان د سـیمې پـه کچـه د یـوه ګـواښ پـه توګـه مطـرح و. د سـیمې هېوادونـو سربېـره؛ تقریبـاً د نـړۍ ټولو هېوادونو پـر دې توافق درلـود، چې افغانسـتان د سـیمې په کچه ګـواښ او د نړیوالـې ترهګـرۍ مرکـز دی. پـه افغانسـتان کـې یـې د جګـړې ختـم او د سـولې راتلـل پـر جګـړه بانـدې کـول، خـو اوس د سـیمې هېوادونـه او نړیـوال دې پایلـې تـه رسـېدلي چې د افغانسـتان سـتونزه د جګـړې لـه لارې نـه؛ بلکـې د خبـرو اتـرو لـه لارې حـل کېـدای شي او پـه دې اړه بانـدې د ملـي یـووالي حکومت پـه دوران کـې پـه نړیوالـه سـطحه اجـماع رامنـځ تـه شـوې ده، چـې پـه پایلـه کـې یـې امریکایانـو لـه طالبانـو سره لـه تېر یوه کال راهیسـې مخامـخ خبرې پیـل کـړې، چـې تـر اوسـه پـورې لـس پړاوه خبرې تر سره شـوې او اوس مهـال د دواړو لوریـو تـر منـځ د تفاهـم پـه پایلـه کـې د یـو لنډې مـودې لپاره مخامخ خبرې درېدلـې، خو د طالبانـو سیاسـي دفتـر ویانـد سـهیل شـاهین لـه بي بي سي سره پـه خبـرو کې وویـل چـې دوی بـه لـه امریکایانـو سره تـر نـوي میلادي کال مخکې یـوې هوکړې ته ورسـېږي، چـې لـه دې هوکړې وروسـته به د لسـو ورځـو پـه جریـان کې بیـن الافغاني مذاکـرات پیـل کیـږي، چـې دا مذاکرات به ټاکونکـی رول ولـري.

**دوام لري...**

## تازه شمېرې: په یوه کال کې ۵۲۳ کابل ښاریان د جنایي جرمونو پر مهال وژل شوي دي



په کابل ښار کې د یو کال په اوږدو کې ۲٦۳۲ د جنایي جرمونو پېښې ثبت شوې چې ۵۲۳ یې وژنې، ٦۳۸ یې ټپي کول، ۲٦ یې سرې تښتونې، ۹۳۷ یې بېلابېلې غلاوې او پاتې نور یې جنایي جرمونه دي. پژواک خبري اژانس د ۱۳۹۸ لمریز کال د وري په ۲۹مه د اطلاعاتو غوښتنې ځانګړي فورم له لارې له کورنیو چارو وزارته وغوښتل چې د هېواد په کچه په ۱۳۹۷ لمریز کال کې د ثبت شوو جنایي جرمونو په اړه د هرې ولسوالۍ په تفکیک معلومات ورکړي.

د کورنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، په ۱۳۹۷ لمریز کال کې په کابل ښار کې هره میاشت په منځنۍ کچه ۲۲۰ جنایي پېښې ثبت شوې او شمېرې ښیي چې تېر کال هره میاشت د جنایي جرمونو له امله په منځنۍ کچه ۴۴ کسان وژل شوي دي.

د کورنیو چارو وزارت په دې اړه چې ولې د هېواد په پلازمېنه کې جنایي جرمونه او په تېره د پنځمې امنیتي حوزې په مربوطاتو کې هدفي وژنې ډېرې دي او پولیسو تېر کال د سلګونو یادو وژل شوو کسانو له قاتلانو سره څه کړي، معلومات نه دي ورکړي.

په ورته وخت کې د کابل ښار د پنځمې امنیتي حوزې اوسېدونکي اجمل ستانکزي ویلي، له بده مرغه جنایي جرمونه په ټول کابل ښار، خو په ځانګړي ډول د پنځمې امنیتي حوزې په مربوطاتو کې اوج ته رسېدلي او خلک یې تر پزې رسولي دي.

هغه زیاته کړې: «داسې ورځ دې ناروا وي چې په پنځمه حوزه کې کومه پېښه نه وي، پنځمه حوزه نه ده؛ سمه باړه ده باړه... یو کال کې تر ۵۰۰ ډېر کسان په قتل رسېدلي، چارواکیو ته شرم دی، له خدای نه دې مرګ وغواړي».

بلخوا د امنیتي چارو شنونکي هم په کابل او نورو ولایتونو کې د جنایي پېښو د ډېرېدو عامل د امنیتي ادارو بې کفایتي بولي.

د پوځي چارو شنونکي متقاعد جنرال عبدالواحد طاقت ویلي: «د امنیتي ادارو بې کفایتي، د امنیتي ارګانونو تر منځ د همغږۍ نشتوالی، وظیفوي تداخل، عدم مجازات او مکافات، مجرم ته مکافات ورکول او په هېواد کې د معافیت د فرهنګ شتون، په کابل ښار کې د جنایي پېښو د ډېرېدو لاملونه دي».

هغه ویلي، مجرم ته سزا نه ورکول، مجرم ته د مکافاتو د ورکولو مانا لري.

طاقت ویلي چې په ټوله کې د حکومت کړنې د جرمونو په مخنیوي کې ډېرې کمې دي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې ولسمشر محمد اشرف غني هم د تېرې لیندۍ میاشتې په دویمه په ارګ کې یوې امنیتي غونډې ته د خبرو پر مهال د کابل پولیسو له کړنو ناخوښي څرګنده کړه او دغو پولیسو ته یې دری میاشتې وخت ورکړ، څو د امنیت د ټینګښت، له فساد سره مبارزې او اصلاحاتو په برخو کې ځانونه ثابت کړي.

# د نړیوالې سوداګرۍ په سازمان کې د افغانستان د غړیتوب حقوقي ارزونه

لیکنه: اکرام الدین کامل

اتمه برخه:

**سالم رقابت/سوداګري**

د سازمان غړي که له یوې مخې دا مکلفیت لري چې تعرفې او نور د سازمان اصول له تبعیض پرته تطبیق کړي او هغه لوړې تعرفې وضع نه کړي، چې له سازمان سره یې پرې ژمنه کړې ده؛ خو له بلې مخې غړي هېوادونو ته د دې حق هم ورکړل شوی چې د «نا سالمه رقابت/سوداګرۍ» پر مهال اضافي تعرفې وضع کړي. سازمان په ځانګړې ډول د «نا سالمې سوداګرۍ» اصطلاح نه ده تعریف کړې او نه هم دا تر دې دمه ځانګړې شوې چې «سالمه سوداګري» څه مانا لري او «ناسالمه سوداګریز اعمال» څه دي؟ البته سازمان د ډمپینګ (Dumping) او سبسایډي (Subsidy) په اړه په تفصیل سره اصول ذکر کړي چې په عام ډول دغه دواړه اعمال «غیر سالم» ګڼل کېږي او له همدې کبله سازمان د دواړو اعمالو اړوند دوه بېلابېل هوکړه لیکونه لري، چې لاندې به په تفصیل سره ذکر شي.

**ډمپینګ Dumping**

د ګاټ ۴مه او د ډمپینګ ضد هوکړه لیک د ۲مې مادې لومړۍ فقرې ډمپینګ تعریف کړی دی. د ډمپینګ عمومي مانا دا ده چې یو هېواد خپل صادراتي توکي د بل هېواد مارکیټ ته تر هغه په کم ارزښت وړاندې کړي، چې په خپل داخلي مارکیټ کې یې پلوري. د ډمپینګ د حقوقي تعریف له مخې، هېوادونه په هغه صورت کې د ډمپینګ خلاف اقدام کولای شي چې د ډمپینګ له کبله داخلي ورته یا شبیهه یا مستقیم رقابتي صنعت ته جدي تاوان یا تهدید پېښ کړي. حکومتونه باید مخکې تر دې چې د ډمپینګ ضد تدابیر واخلي، باید لومړی دا ثابته کړي چې ایا ډمپینګ شوی؟ که شوی نو څومره شوی؟ او ایا ډمپینګ داخلي صنعت ته زیان رسوي یا جدي تهدید ورته پېښوي؟ له همدې کبله ډمپینګ په خپل ذات کې بد نه دی، بلکې هغه مهال ښه نه ګڼل کېږي کله چې د ډمپینګ له کبله داخلي صنعت ته د وارداتو له کبله زیان ورسېږي. د بېلګې په توګه، پاکستاني زراعتي شرکتونه په پاکستاني بازار کې یو ټن امونه په ۴۰ زره کلدارې خرڅوي؛ خو د افغانستان په بازار کې ورته امونه د ۳۰ زرو کلدارو معادلو افغانیو باندې خرڅوي، سره له دې چې پر دې د حمل و نقل مصارف هم راغلي او تعرفه هم پرې وضع شوې، خو د دې باوجود یې نرخ د پاکستان تر داخلي مارکیټ ارزانه دی. دلته په ساده عبارت تر ۱۰ زره روپۍ زیات ډمپینګ شوی دی او افغانستان په هغه صورت کې چې د امونو کم نرخ د افغانستان داخلي صنعت ته زیان رسوي یا داخلي صنعت تهدیدوي، کولای شي د ډمپینګ ضد هومره مالیه واخلي څو خپل داخلي صنعت د وارداتو له اغېزو وساتي.

د ګاټ ٦مه ماده هېوادونو ته د دې اجازه ورکوي چې د ډمپینګ خلاف اقدام وکړي. د ډمپینګ ضد هوکړه لیک د ګاټ ٦مې مادې په اړه نور تفصیل ورکړی دی. د ډمپینګ ضد هوکړه لیک هېوادونو ته د دې جواز ورکړی چې د ډمپینګ په صورت کې پر وارداتو اضافي تعرفې وضع کړي، څو د ډمپ شوي توکي نرخ «نورمال ارزښت» ته نېږدې کړي یا داخلي صنعت ته چې کوم زیان رسېږي، هغه زیان نفي کړي.

**سبسایډي Subsidies**

د «غیرې سالمې سوداګرۍ» دویم ډول صادراتو یا داخلي توکو ته سبسایډي ورکول دي. د ګاټ ١٦مه ماده او د سبسایډي او تعویضي تدابیرو هوکړه لیک په دې اړه احکام لري، چې تر کومه حده د سبسایډي ورکول جواز لري او کومه سبسایډي ممنوع ده. د ګاټ ١٦مې مادې سبسایډي نه ده تعریف کړې، بلکې یوازې یې غړي هېوادونه مکلف کړي چې د سبسایډي په اړه چې سوداګري اغېزمنوي، باید سازمان ته خبر ورکړي او همدا راز که سبسایډي د بل غړي هېواد ګټو ته جدي تاوان رسوي، غړي هېوادونه باید خپله سبسایډي محدوده کړي.

د اوروګوای د خبرو اترو پر مهال د سبسایډي او تعویضي تدابیرو په اړه ځانګړی هوکړه لیک تصویب شو. دغه هوکړه لیک سبسایډي داسې تعریف کړه: «سبسایډي هغه مالي مرستې دي چې د دولت له لوري ورکول کېږي او ګټه ترې تر لاسه کېږي». لومړۍ ماده دوه مهم شرایط لري. لومړی شرط دا دی چې له تولیداتو سره مالي مرسته شوې وي او دویم دا چې دغه مالي مرسته ګټه ورسوي. مالي مرسته په دې مانا چې دولت له تولیدونکو سره مستقیمې نغدي مرستې وکړي یا قرضونه ورکړي یا دولت له داخلي شرکتونو مالونه واخلي او یا هم داسې نور. د ګټې د تر لاسه کولو مانا دا ده چې که چېرې دولت له تولیدونکو سره مالي مرسته نه وي کړې، نو هغه ګټه چې اوس یې تر لاسه کړې، شاید نه وای تر لاسه کړې. د بېلګې په توګه، دولت داخلي تولیدونکو ته په داسې شرایطو قرضونه ورکوي چې ډېر ګټور وي، خو په همدې شرایطو قرضونه نورو ته نه ورکوي.

د سبسایډي او تعویضي تدابیرو هوکره لیک د لومړۍ مادې لومړۍ او دویمې فقرې له مخې د سبسایډي په اړه د سازمان اصول یوازې پر ځانګړو سبسایډي تطبیقېږي، که سبسایډي په عام ډول هر چا ته ورکول کېږي، هغه د یاد هوکړه لیک له مخې منع نه ده. د سبسایډي او تعویضي تدابیرو هوکړه لیک څلور ډوله سبسایډي منع کړې: لومړۍ هغه سبسایډي چې ځانګړو شرکتونو ته ورکول کېږي او ټولو ته نه ورکول کېږي؛ دویم هغه سبسایډي ده چې ځانګړو صنعتونو ته ورکول کېږي؛ درېیم هغه سبسایډي ده چې یوې ځانګړې جغرافیوي سیمې ته ورکول کېږي او څلورم هم ممنوعه سبسایډي ده چې د سبسایډي او تعویضي تدابیرو په هوکړه لیک کې ذکر شوې دي.

د سبسایډي او تعویضي تدابیرو هوکړه لیک له مخې سبسایډي پر دریو صنفونو وېشل شوې. لومړۍ ممنوعه سبسایډي ده چې د صادراتو تر فعالیت پورې مشروطه وي یا د وارداتو بدیل استعمالول وي، مانا دا چې سبسایډي په هغه صورت کې یو صنعت ته ورکړل شي چې د وارداتو پر ځای داخلي توکي وکاروي. دویم ډول یې تعقیبي سبسایډي ده او دا په ځانګړې ډول نه ده تعریف شوې، بلکې هر هغه څه چې د سبسایډي تر تعریف لاندې راځي، هغه تعقیبي سبسایډي ګڼل کېږي. د سبسایډي او تعویضي تدابیرو هوکړه لیک د ۵مې مادې له مخې هر هغه اقدام چې د یاد هوکړه لیک د تعریف له مخې سبسایډي ګڼل کېږي او د سازمان غړي هېواد خلاف ناوړه اغېزه ولري، هغه تعقیبي سبسایډي ګڼل کېږي. درېیم ډول غیر تعقیبي سبسایډي ده لکه د تحقیق په موخه سبسایډي ورکول یا هغو سیمو ته سبسایډي ورکول چې وروسته پاتې وي. البته د دغه سبسېډۍ حکم په ۲۰۰۰ ز کال کې لغوه شو او اوس هر هغه ډول سبسایډي چې ځانګړې وي، هغه تعقیبي سبسایډي ده او که بل غړي ته زیان رسوي، نو منع ده.

**دوام لري...**

# لومړنۍ پایلې او د کمېسیون اعتراف؛

## مولانا عبدالله: لومړنۍ پایلې له سرغړونو ډکې دي، شکایتونه دې و ارزول شي



د ولسمشریزو ټاکنو د لومړنیو پایلو له اعلان سره هممهاله پر دغه اعلان غبرګونونه هم ډېر شوي دي. پرون د ټاکنو کمېسیون یوه غړي پخپله اعتراف وکړ، چې د دوی کارونه له ستونزو او قانوني سرغړونو ډک وو. نوموړي د ټاکنیزو شکایتونو له کمېسیون غوښتي چې خپلې چارې په پوره بې طرفۍ مخ ته یوسي.

بلخوا د ولسمشریزو ټاکنو یوه نوماند ګلبدین حکمتیار هم ویلي چې کمېسیون د ده رایې غلا کړې دي. د جنوبي او مرکزي اسیا په چارو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړې استازې آلیس ویلز بیا ویلي، چې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون دې په مسلکي او شفافه توګه پایلې و ارزوي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون له اوږده ځنډ وروسته وړمه ورځ د ولسمشریزو ټاکنو لومړنۍ پایلې اعلان کړې. د پایلو د اعلان په لومړۍ ورځ مخکښ ټیم (دولت ساز) د پایلو د اعلان هرکلی وکړ، خو پر وړاندې یې ډېرو ټیمونو له دې ډلې ثبات او همپالنې د رایو د پایلو مخالفت وکړ. د دغه ټاکنیز ټیم نوماند ډاکټر عبدالله عبدالله وویل، چې پایلې ورته د منلو نه دي، ځکه کمېسیون د یوې ځانګړې ټاکنیزې ډلې ملاتړ کوي او چارې یې شفافې نه دي.

تازه د ټاکنو خپلواک کمېسیون یوه غړي مولانا عبدالله د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ته په یوه لیک کې پر دې اعتراف کړی، چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون چارې جدي او قانوني ستونزې لري. نوموړي دغه کمېسیون ته په استولي لیک کې ویلي، چې دوی باید په پوره بې طرفۍ شکایتونه وڅېړي او د قوانینو په رڼا کې لومړنۍ پایلې وارزوي او خپله پرېکړه اعلان کړي. نوموړي ویلي: «کومې پایلې چې د لیندۍ په ۳۰مه اعلان شوې، جدي او قانوني نقایض، تخلفات او ستونزې لري».

مولانا عبدالله ټینګار کړی چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون دې په پوره بې طرفۍ او خپلواکۍ شکایتونه وڅېړي، پایلې دې وارزوي او پاکې رایې دې له ناپاکو بېلې کړي. د کمېسیون دغه غړي داسې مهال د خپل کمېسیون چارې نیمګړې بولي چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون مشرې په ځلونو پر خپله بې طرفۍ او خپلواکۍ ټینګار کړی دی.

بلخوا د ولسمشریزو ټاکنو نوماند ګلبدین حکمتیار بیا وایي چې کمېسیون د دوی رایې پټې کړې دي او په خبره یې، ډېر ژر به خپله پرېکړه اعلان کړي. نوموړي دا چې دوی به د خپلو رایو د ساتنې لپاره کوم اقدام کوي وروسته به یې په اړه معلومات ورکړي. د ده په خبره، کمېسیون په لوی لاس د ځینو مرکزونو بایومټریک وسایل ورک کړي دي او یا یې ستونزې پکې جوړې کړې دي.

په ورته وخت کې د جنوبي او مرکزي اسیا په چارو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مرستیاله آلیس ویلز وایي، د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون دې په پوره شفافیت او مسلکیتوب شکایتونه او پایلې و ارزوي. نوموړې ویلي، سره له دې چې په تېرو ټاکنو کې د خلکو ګډون کمرنګه و، خو ګټونکی یې باید ټولو اړخونو ته په حکومت کې ځای ورکړي او یو ټول شموله حکومت دې جوړ کړي. نوموړې د سولې په اړه هم ویلي چې نوی جوړېدونکی حکومت باید د سولې لپاره عملي او کوټلي ګامونه اوچت کړي او د دغه سترې موخې لپاره عملي پلانونه ولري.

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون بیا په پوره بې طرفۍ د شکایتونو د جدي څېړنې خبره کوي. د دغه کمېسیون مرستیال دین محمد عظیمي وایي، دوی د قانون په رڼا کې ټول شکایتونه څېړي. د ده په خبره، دوی خپل کار په پوره بې طرفۍ مخ ته وړي او په خبره یې، د ټاکنیزو شکایتونو په څېړلو سره هرو مرو په اوسنیو پایلو کې بدلون راځي. هغه وایي: «موږ قوانینو ته ژمن یو، موږ کافي کسان لرو چې ټول شکایتونه پخپل وخت په ټولو ولایتونو کې وڅېړي. زموږ څېړنې او ارزونې به هرو مرو پر لومړنیو پایلو اغېز ولري».

د شکایتونو کمېسیون وړمه ورځ هم په یوه خبري کنفرانس کې ویلي وو، چې دوی ټول شکایتونه څېړي او ان که د ټولو مرکزونو په اړه هم شکایتونه وي، دوی به د هر مرکز رایې شمېرې او هر شکایت ته به رسیدګي کوي.

# سعودي: د جمال خاشقجي د وژلو په تړاو پنځه چارواکي پر مرګ محکوم شوي دي

د سعودي عربستان څارنوالۍ ویلي چې د دغه هېواد یوې محکمې پنځه کسان د خبریال جمال خاشقجي د وژلو په تړاو پر مرګ محکوم کړي دي.

دا په داسې حال کې ده چې خبریال او د سعودي حکومت یو له سرسختو مخالفینو جمال خاشقجي تېر کال د ځینو اداري کارونو لپاره په ترکیه کې د عربستان کونسلګرۍ ته ولاړ او بیا له هغې وروسته ورک شو.

که څه هم په لومړیو کې د سعودي دولت په دې پېښه کې خپل لاس لرل رد کړل، خو د نړیوالو فشارونو له امله یې وویل چې څېړنو ښودلې چې ځینو چارواکو او امنیتي مامورینو په دې پېښه کې لاس لاره.

تازه د دغه هېواد څارنوالۍ ویلي چې د دغو خپل سرو عملیاتو په تړاو ۱۱ چارواکي چې نومونه یې نه دي اخیستل شوي، محاکمه کېږي.

په ورته وخت کې ملګرو ملتونو چې د خاشقجي وژنه یې په کلکو ټکو غندلې وه، د سعودي له ولیعهد او نورو لوړ پوړو سعودي چارواکو د دغې وژنې په اړه د تحقیقاتو غوښتنه کړې وه.

په ورته وخت کې دغه محکمه چې د ترلو دروازو تر شا تر سره شوې، د بشري حقونو د مدافعو بنسټونو له نیوکو سره هم مخ شوې ده.

پر بشري حقونو د څار اداري ویلي چې دغه محاکمه له نړیوالو معیارونو سره اړخ نه لګوي او سعودي عربستان په ټوله مانا د حساب ورکونې مخه ډپ کړې ده.

بلخوا د خاشقجي د وژلو په تړاو چې تر ډېره یې پړه د دغه هېواد پر ولیعهد محمد بن سلمان وراچول کېږي، هغه په داسې حال کې چې په دې مسئله کې هر ډول لاس لرل رد کړي، دری میاشتې وړاندې یې د سعودي د یوه مشر په توګه ځان ګرم وباله.

نوموړي هغه مهال ویلي وو: «د خاشقجي وژنه داسې مهال شوې چې زه د هېواد د چارو پر څارنه بوخت وم، نو پر دې اساس مسوولیت یې ما ته راګرځي».

د سعودي دغه وژل شوی خبریال یو وخت د حکومت له نږدې کسانو څخه و، خو امریکا ته یې تر تګ وروسته، نوموړي په واشنګټن پوسټ ورځپاڼه کې د محمد بن سلمان په مشرۍ د دغه هېواد پر دولت نیوکې پیل کړې. نوموړی تېر کال د اکټوبر په دویمه د ځینو اداري کارونو لپاره په ترکیه کې د عربستان کونسلګرۍ ته ولاړ او بیا له هغې وروسته ورک شو.

وروسته ترکي چارواکو وویل، داسې شواهد نشته چې وښیي خاشقجي دې د ننه په کونسلګرۍ کې وژل شوی او مړی یې ټوټه ټوټه شوی وي.

ترکي چارواکو د نوموړي پر وژنه د سعودي عربستان دولت پړ وباله او وروسته د امریکا استخباراتي ادارې د سعودي ځینې امنیتي چارواکي د ده پر وژلو تورن کړل او بندیز یې پرې ولګاوه.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**درېیمه برخه**

**افغانستان**

## لسم څپرکی
## په لوی کندهار کې نوي طالبان




د ۲۰۱۱ز کال په سپټمبر کې د امریکا متحده ایالتونو د ګډو ځواکونو مشـر، اډمایرل مایک مولن د پاکستان پر ISI تور لګولی و چې ګواکې په افغانستان کې د حقاني د جګړې ملاتړ کوي. د همدې کال د سپټمبر پر ۲۷مه، طالبانو د یوې اعلامیې پر مټ له اسلام‌اباد سره د حقاني شبکې د اړیکو لرل رد کړل. په اعلامیه کې راغلي وو: ((امریکا خپله پر دروغو غواړي د جهادي شخصیت او د طالبانو د شورا د غړي الحاج جلال الدین حقاني په اړه د عامو خلکو ذهنیت بدل کړي. هغوی غواړي حقاني له طالبانو بېل شي او له نورو ډلو سره یو ځای شي. غواړي له دې لارې وښیي چې مجاهدین سره وېشلي او د هغوی مشـران پر بهرنیو استخباراتو پورې تړي. د پاکستان حکومت د خپلو ملي ګټو ننګه کوي، ځکه یې هغوی مخالفت کوي.)) دې اعلامیې ته د مولن له خبرو وروسته، پاکستانیو رسنیو ډېره پاملرنه وکړه.

د پاکستان په زندان کې د طالبانو د وخت د دفاع وزیر او د ملا محمدعمر د مرستیال ملا عبیدالله له مړینې وروسته یې هم له پاکستان سره خپلې اړیکې خرابې نه کړې. ملا عبیدالله په ۲۰۰۷ز کال نیول شوی و او د کراچۍ په زندان کې په ۲۰۱۰ز کال د زړه د ناروغۍ له امله ومړ. طالبانو بیا هم پر پاکستان له مخامخ نیوکې ډډه وکړه، یوازې یې دومره وویل چې ګني پاکستان یې په نه درملنه کې بې پروایي کړې وه.

په پاکستان کې یې د خوندي ځایونو د لرلو له کبله هغوی د پاکستان لاس ته اړ ویستي. په کوټه کې د طالبانو د شورا موجودیت د هغوی لپاره یوه حساسه موضوع وه، ځکه یې د پاکستان د څارګرو په مخالفت هېڅ هم نه شو ویلای. د طالبانو مشـران په دې هم پوهېدل چې د پاکستاني استخباراتو له همکارۍ پرته په افغانستان کې جګړه په یوازې ځان مخ ته نشي وړی. طالبان په بلوچستان او خیبر پښتونخوا کې د دېوبندي علماوو او جمعیت علماء اسلام ډلې تر اغېز لاندې وو.

هغه تحلیل چې ګني طالبان او القاعده د یوې موخې لپاره په ګډه جګړه کوي، تل ناسم و. طالبان او القاعده په سني اسلام کې هم بېلې لارې تعقیبوي، په دودیزه توګه هم له یو بل سره توپیر لري، د دواړو ډلو په منځ کې ان ځینې وختونه زړه بدوالی هم راغلی. کله چې په ۱۹۹۶ز کال طالبانو په افغانستان کې پر ډېرې سیمو کنټرول ولګاوه، القاعده د طالبانو تر نفوذ لاندې شوه. اسامه بن لادن شخصاً له ملا محمدعمر سره بیعت وکړ او له هغه سره یې ځانګړې ملګرتیا پیل کړه، خو طالبانو د بن لادن د نړیوال جهاد په اجنډا کې هېڅ رول نه لاره. د لوی کندهار طالبانو د لوېدیځ د لویو بریدونو په پلان جوړونه او نورو چارو کې هېڅکله ونډه نه وه اخیستې. هغوی یوازې د افغانستان په اړه فکر کاوه. بل لور، حقاني شبکې له عرب افراطیانو سره له پخوا اوږدې اړیکې لرلې.

د سپټمبر له ۱۱مې وروسته په افغانستان کې د امریکا له مداخلې وروسته، واشنګټن، القاعدې او طالبانو ته د یوې ترهګرې ډلې په سترګه وکتل، ځکه هغوی له یو بل سره د دې ګواښ پر وړاندې سره یو ځای شول. دواړو ډلو په افغانستان کې د ناټو حضور ته د اشغال په سترګه وکتل او د هغوی پر ضد یې ګډه جګړه پیل کړه. د ناټو له لوري پر طالب مشـرانو له بریدونو سره، د هغوی ځوانو ځای ناستو د القاعدې پر تخنیکونو تکیه کول پیل کړل. دواړو ډلو پاکستان کې پټنځایونه لرل. پر دې ټولو اړیکو سربېره بیا هم د دواړو ډلو تر منځ په موخو کې لوی واټن موجود و. د القاعدې، د منځنۍ اسیا د جنګیالیو او پاکستاني طالبانو په څېر افغان طالبانو هېڅکله د پاکستاني پوځ پر ضد جګړه نه ده کړې.

**له طالبانو سره سوله**


دا چې د طالبانو غوښتنې یوازې په افغانستان پورې اړه لري، د سولې لپاره د موکې ور پرانیزي. ولسمشـر حامد کرزي هم دا خبره درک کړې وه، ځکه یې د ۲۰۰۱ز کال په ډسمبر میاشت د ارزګان په غرونو کې له طالبانو سره له جګړې ډډه وکړه. کله چې حامد کرزی د لنډمهاله ادارې د مشـر په توګه ونومول شو، کرزی د هغې نظریې پلوی و چې سوله غوښتونکي طالبان په امن کې ژوند وکړي. کرزی په افغانستان کې د انتقام اخیستنې له دردونو سره بلد و او په هېڅ صورت یې بیا د غچ اخیستنې لړۍ پیلول نه غوښتل. ځینو طالب مشـرانو لکه ملا عبیدالله او ملابرادر کرزي ته لیکونه ولېږل، د ښښنې په بدل کې یې د هغه د ادارې مشـروعیت ومانه.

واشنګټن د طالبانو د ښښنې له نظریې سره موافق نه و، هغوی له القاعدې سره د هرې ترلې ډلې پر وړاندې د سولې د خبرو مخالفت وکړ. هغه مهال د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې په سیاست کې د مذاکراتو کلمې ته ځای نه و، واشنګټن هم فکر کاوه چې د طالبانو ځواک یې نور له پښو غورځولی و او د جګړې توان یې نه لاره. په شمالي ټلواله او سویلي افغانستان کې د کرزي ملګرو هم له مذاکراتو سره مخالفت کاوه. د کرزي د ادارې په لومړیو کلونو کې ان ځینو طالبانو په ټاکنو کې هم ونډه واخیسته. ځینو ته یې په حکومت کې دندې ورکړې چې په هغو کې یې ځینې ان د ولایت په شوکۍ هم وګمارل شول، خو نور پاتې لوی شمېر یې بلوچستان ته لاړل او له هماغه ځایه یې د جګړې لپاره چمتووالی ونیوه.

**دوام لري...**

# چارلز دیکنز

شفیق امیرزی



چارلز دیکنز د نړۍ په کچه مشهور لیکوال دی. هغه د داستاني ادب په برخه کې وتلی نوم دی. چارلز دیکنز په انګلیسي ژبه کې ناولونه پنځولي، د ویکتوریا د عصر مهم لیکوال، ټولنیز فعال او وړ کس و چې په خپل وخت کې یې خورا شهرت درلود. د وتلي معاصر انګلیسي لیکوال جیمز جویس په خبره، له شکسپیر وروسته چارلز دیکنز په انګلیسي ژبه او ادب کې د نړۍ تر ټولو اغېزناک لیکوال تېر شوی دی. هغه ځکه ستایل کېږي چې پیاوړی نثر یې لیکه، په زړه پورې شخصیتونه یې پنځول او کرکټرونه یې د هېرېدو نه دي.

چارلز دیکنز د ۱۸۱۲ ز کال د فبرورۍ په اوومه د انګلیستان په پورتس موث کې زیږېدلی دی. هغه د خپلې اته کسیزې کورنۍ دویم اولاد و. د مور نوم یې الیزابت دیکنز او د پلار نوم یې جان دیکنز و. د چارلز دیکنز د ژوند لومړني کلونه یوې کیسې ته ورته دي. ده به ویل چې په کورنۍ کې یو څه کوچنی و، خو دومره مراقبت یې نه کېده. ډېر وخت به له کوره بهر و او هلته به یې له ماشومانو سره لوبې کولې او چکرې به یې وهلې. په نوي ځوانۍ کې یې مطالعه پیل کړه او له ناول لوستلو سره یې مینه وه.

د چارلز دیکنز کورنۍ تر یوې کچې شتمنه وه. تر یوې مودې پورې یې په ویلیام ګیلز ښوونځي کې زده کړې وکړې. خو په دې وخت کې یې ارامتیا ختمه شوه. پلار یې په تفریحي کارونو او دغه راز په ټولنه کې د خپل موقف د ساتلو لپاره ډېرې پیسې لګولې. خو وروسته دا لړۍ دې حد ته را ورسېده چې ډېر پوروړی شو او ان د لندن د پوروړیو په زندان کې بندي شو.

چارلز دیکنز په ۱۲ کلنۍ کې داسې فکر کاوه چې نور نو ځوان او لوی شوی دی. له همدې امله یې د کښتۍ جوړونې په یوه فابریکه کې کار پیل کړ. هغه به هره ورځ لس ساعته کار کاوه. ده به چې کومې پیسې له دې درکه ګټلې، هغه به یې د کور په کرایه لګولې، له پلار سره به یې په زندان کې مرسته کوله او د کور لګښتونه به یې ترې پوره کول. خو یو څه وخت وروسته د دې کورنۍ مالي حالت ځکه ښه شو چې له نیکونو پیسې په میراث ورته پاتې وې. سره له دې چې د کورنۍ مالي وضعیت مخ په ښه کېدو و، خو د چارلز مور لا هم دی کار ته لېږلو او له ده به یې غوښتل چې پیسې وګټي. له همدې امله چارلز هېڅ وخت د خپلې مور د ښښلو لپاره زړه ښه نه کړ او د ده پر ژوند دې کار او سختۍ اغېز وکړ. ځینې لیکوالان پر دې باور دي چې د چارلز دیکنز د اثارو اصلي سرچینه همدا سختۍ وې، د اثارو اصلي سرچینه او بنسټ یې همدا سختۍ او ناخوالې بلل کېږي.

چارلز دیکنز د خپل ژوند سختۍ په یوه کتاب کې د داستان په بڼه راټولې کړې دي. دې کتاب ته یې دیوید کاپرفیلد نوم ورکړی. دی د خپل ځان په اړه وايي: ((زما لپاره هېڅ ډول پند، هڅونه، دلداري، یاري، ملاتړ او مرسته د هېچا له لوري نه وه. زه دې ځای ته رسېدلی وم، چې غوښتل مې ډېر ژر جنت ته لاړ شم)). د دې سختیو او کارونو تر څنګ، دیکنز زده کړې هم کولې. په ۱۸۲۷ ز کال کې چارلز د آلیس او بلکمور په نامه په یوه بنسټ کې د حقوقي کارمند په توګه دنده پیل کړه. دی چې کله د وروستي سمیسټر محصل و، پر دې پوه شو چې د وکالت ښه استعداد لري. دا داسې یو مسلک و چې وروسته یې په ډېرو اثارو کې له دې مسلکه کرکه کړې ده. اوولس کلن و چې په محکمه کې یې د پرېکړو او قضیو د لیکوال په توګه دنده پیل کړه.

د وکالت پر مهال یې دا دنده خوښه نه شوه او نه هم په محکمه کې لیکوالي ورته په زړه پورې وه، نو د لندن اوضاع ته په کتو یې خبریالي غوره کړه. ده نو د خبریال په توګه دنده پیل کړه او لنډ لیکلو یا خلاصه لیکلو په برخه کې یې خپل مهارت ثابت کړ. دیکنز په ۱۸۲۹ ز کال کې د ماریا بیدنل په نامه پر یوه نجلۍ باندې مین شو. خو د ماریکا کورنۍ دی په ټولنه کې تر ځان ټیټ وګاڼه او د واده مخالفت یې وکړ. وروسته دیکنز په کاپرفېلد ناول کې د ماریا او ځان مینه د دورا او کاپرفېلد په نامه انځور کړه. د لومړي ځل لپاره په ۱۸۳۳ ز کال کې چارلز دیکنز خپله لومړنۍ ادبي طرحه خپره کړه. په دې پسې یې څو کاله وروسته بله طرحه هم خپره کړه. په دې وخت کې دی له مورنینګ کرونیکل سره یو ځای شوی او خپلې طرحې یې په پوپلار کې خپرې کړې. له همدې سره جوخت دیکنز مجبور شو چې د پارلماني ټاکنو په اړو دوړ کې داخل شي، راپورونه راټول کړي، له خلکو سره هسک ټیټ شي، ټولنیزې اړیکې یې پراخې شي او دا لړۍ ورځ تر بلې لا ډېره وغوړېږي.

هغه په ۱۸۳٦ ز کال کې دوه کاله د طرحو تر خپرولو وروسته له کاترین هوګارت سره واده وکړ. وروسته یې د ترلو او مسلسلو داستانونو د لیکلو لپاره یوه هوکړه لاسلیک کړه. دغه داستانونه وروسته د پیکویک په نامه مشهور شول. ده لا د وړاندې د بنتلیز مسیلاني مسوول مدیریت منلی و. په هغه کې یې الیور تویست په ۱۸۳۷ تر ۱۸۳۹ ز کال پورې خپور کړ. دیکنز د ۱۸۷۳۷ ز کال په لومړیو کې د لومړني اولاد څښتن شو. دی وروسته د لسو اولادونو پلار شو.

مخکې مو هم یادونه وکړه چې چارلز دیکنز یو مدني فعال هم و او په بشرپاله فعالیتونو کې یې برخه اخیسته. په ۱۸۳۸ز کال کې یې د یورکشایر له ښوونځیو لیدنه وکړه او په نیکلاس نیکلبي کې یې د دې ښوونځیو په اړه لیکنې خپرې کړې.

دیکنز په ۱۸۴۲ز کال کې چې د شهرت په اوج کې و، امریکا او فرانسې ته سفر وکړ. امریکا ته د سفر پر مهال د خلکو له خورا تاوده هرکلي سره مخ شو. په همدې اړه یې د امریکا یادښتونه او مارتین چارلز لویت اثار هم خپاره کړي دي. ده د امریکا ستاینې کړې دي او همدا راز ټول هغه څه یې هم لیکلي چې د دیکنز په باور د کرکې وړ دي او د ده نه دي خوښ شوي. په ۱۸۴۴ او ۱۸۴۵ ز کلونو کې یې ایټالیا ته سفر وکړ. په دې اړه یې هم کتابونه لیکلي دي. د خپل هېواد د بېوزلو لپاره یې له ایټالیا الهام واخیست او په دې اړه یې اثار خپاره کړل. له ایټالیا چې بېرته راوګرځېد، تر یوې مودې د ډیلي نیوز مسوول و. بیا یې د بېوزلانو د ښوونځیو د وضعیت ښه کېدو په موخه مبارزه پیل کړه او همدا راز د دې پر وړاندې کلک ولاړ و، چې نور دې خلک په عام محضر کې د ټولو خلکو د سترګو په مخ کې نه اعدامېږي.

وروسته له دې چې خپل مشهور ناول دیوید کاپرفېلد یې خپور کړ، نو خپله یې یوه مجله جوړه کړه. مجله یې هاوسولډ ورډز نومېده. په دې کې یې پخپل سبک لیکنې کولې. خبرې یې اساسي او انساني وې.

دیکنز د جورج الیوت، امیل زولا، دفو او نورو په څېر لیکوالي له خبریالۍ پیل کړې ده. تر واقعیت وروسته یې خیال ته تللی او هلته یې په ناولونو کې خیالي نړۍ پنځولې ده. په لومړي سر کې یې کار دا و، چې له پارلماني غونډو یې باید راپورونه جوړ کړي وی، خو کار یې په سرعت لیکوالۍ ته لاړ او هلته یې وده وکړه. طرحې یې خپرې کړې، مقالې یې ولیکلې او همدې لیکوالۍ یې تدریجي ودې ته زمینه برابره کړه. له لیکوالۍ سره یې له خبریالۍ هم لاس وا نه خیست. دی تل د مجلو او ورځپاڼو مسوول مدیر پاتې شوی دی. لیکل به یې کول، سرلیکنې به یې لیکلې، ویناوې به یې کولې او پر لیکوالۍ به هم بوخت و.

دیکنز خپله لیکوالي د ادبي طرحو له لیکلو پیل کړې ده. دی په ستاینه کې استاد دی. د انځور په جوړولو کې پوره مهارت لري. دومره په دقت انځور جوړوي چې لوستونکی هر څه احساسولی شي. دی د لندن په سړکونو کې لوستونکی ګرځوي، دوړې او نم یې ورباندې احساسوي او پیکه څراغونه ورباندې ویني. د دیکنز د اثارو لوستل په یوه سینما کې د فیلم کتلو ته ورته دي، که لوستونکی دقیق وي هر څه پخپلو سترګو لیدل او احساسولی شي. دیکنز د دې تر څنګ ځانګړې طنزي ژبه لرله. ده د کمیډۍ او طنز په برخه کې ځانګړی او پیاوړی استعداد درلود. دی که وغواړي لوستونکی په پوره مهارت خندولی او حیرانولی شي. د هغه کرکټرونه تر ډېره خندني وي، دا مسئله په طرحو کې تر ډېره د پام وړ ده. د دیکنز یوه بله ځانګړنه دا ده، چې اغېزناک او له مزې ډک لیکل کوي. دی په خپلو طرحو کې هم تحلیل او تجزیه لري، هم قناعت درکوي او هم تفاهم رامنځ ته کوي، چې دا یو مهم او ارزښتناک مهارت دی. دیوید کاپرفېلد بیا د دیکنز د هنر له پوخوالي سرچینه اخلي. په دې اثر کې پر ټولنیزو مسایلو نقد کم دی. په دې اثر کې تر ډېره فامیلي او روحاني موضوعات راغلي دي، خو ډېر په ټولنیزو مسایلو کې نه ښکېلېږي. دا تر ډېره د لیکوال پر خپل ژوند راڅرخي، خپلې خاطرې یې پکې ځای کړې دي، نو د ده د ژوند او حاکم ټولنیز وضعیت انځور پکې ښکاري.

دیکنز وروسته په نورو ناولونو کې د اسانه حللارو له وړاندې کولو لاس اخلي. د سختۍ وختونه، کوچنی دوریت، د دوو ښارونو داستان او سترې هیلې یې هغه اثار دي چې خپل توقعات یې پکې محدود کړي دي. بیا یې هم کرکټرونه د ټولنې عادي وګړي دي. په پوره احساساتي توګه خپل کرکټر انځوروي او لوستونکی اړ باسي چې خواخوږي ورسره وکړي. دیکنز متوسط ژوند درلود. په ورځپاڼو او مجلو کې به یې له ټولنیزو مسایلو نیولې د حکومت تر کړنو پورې نیوکې کولې او حللارې یې وړاندې کولې. د لیکوالۍ او ادبیاتو له درکه په ګټلو پیسو بریالی شو چې یو کور واخلي. د خپلو اولادونو پالنه یې کوله، نوموړو په کارونو کې یې د مداخلې لېوالتیا نه لرله. په ده پسې داسې هم ویل کېدل چې د خپل وخت له یوې سندرغاړې سره یې اړیکې لرلې، خو ده دغه ډول ګنګوسې ردولې او ځینې لیکنې یې په دې اړه خپرې کړې.

دیکنز دا یوه ستره هیله لرله چې په نړۍ کې یو بې جوړې اثر ولیکي او چاپ یې کړي. په ۱۸٦۰ ز کال کې ده لیکل کول، هر څه بدلېدل او کله کله به الن ترنان هم ورسره وه. ده لیکوالي کوله او له مالي اړخه یې هېڅ راز کمی نه درلود. په ۱۸٦۷ او ۱۸٦۸ ز کال کې بیا امریکا ته لاړ. جسماني وضعیت یې کمزوری و او مخ پر ځوړ روان و. چپې پښې یې یاري نه ورسره کوله، ډاکټرانو د جزیي فلجېدو په اړه هم ورته ویلي وو او ځینې وخت یې ان لوستل هم نه شوی کولی. دا ستونزې او جسماني زړښت تر دې مخ ته لاړ چې په ۱۸۷۰ ز کال کې د جون په نهمه د زړه د سکتې له امله ومړ. نوموړی هغه مهال او اوس هم د نړۍ په مشهورو لیکوالانو کې راځي. د نړیوال ادب او ادبي فرهنګ د غنی لپاره یې هڅې کړې دي او قلم یې چلولی دی. اثار یې لا هم په نړۍ کې لوستونکي لري او په ډېرو ژبو ژباړل شوي دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۴۰ |
| € | ۸۶,۸۰ |
| Rp. | ۴۹۷ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰۱,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# څنګه هم کار او هم د ژوند نورو چارو ته ځان ورسوو؟

ژباړه: امان الله «حنيفي»

تقریباً لس کاله مخکې مې له هیوستون څخه نیویارک ته کاري سفر درلود، د سفر پر مهال هغې ښځې ته متوجې شوم چې زما له څنګه صندلۍ ته ناسته وه. هېڅ داسې څه ونه شول چې دواړه سره اشنا شو. هغه د یو شرکت د خرڅلاو برخې مدیره وه. له سترې مه شي او جوړ پخیر وروسته مې نیویارک ته د خپل سفر او کاروبار په اړه له هغې سره یو څه خبرې وکړې. له یوڅه خبرو وروسته مجبور وم چې د مطالعې لپاره چوپ پاتې شم، له بکسې مې ورځپاڼه را واخیسته، خو د هغې زما دې کار ته پام نه و، د پرواز تر اخره یې راسره خبرې کولې.

لا له الوتکې نه وو ښکته شوي چې د یوې غریبې او بېچاره ښځې د ژوند کیسې مې ذهن ستړی کړ، له ځان سره مې وویل، هسې دې له هغې سره خبرې وکړې. فکر کوم هغه له یو څه خبرو وروسته داسې بې پروا غوندې شوه، خو بیا یې هم د خپل ژوند د هرې برخې په اړه داسې بې خیاله او بې نوبته پوښتنې او خبرې کولې. هغې په شرکتونو کې له مسوولیتونو، لاسته راوړنو، د هغو موخو په اړه چې همدا کال یې د ځان لپاره ټاکلې وې، د ستونزو په اړه، د هغه ټیم په اړه چې دې ورسره کار کړی و، د رییس په اړه، د هغو شرکتونو د دود او فرهنګ په اړه چې دې پکې کار کړی و، د هغو سفرونو په اړه چې کړي یې وو او حتی د مخکنیو سفرونو په اړه یې جالبې کیسې راته وکړې.

اوس هم د هغه ساعت احساس ښه په یاد لرم «حواس مې ګډوډ وو او سر مې سخت درد کاوه.» غوښتل مې له هغې ځان ورک کړم، خو هېڅ داسې چانس په لاس نه راتلو. هر وار به مې چې وغوښتل فکر یې واړوم، بیا به یې نوې کیسه شروع کړه.

بالاخره مې همداسې پرې ښوده، ما ویل ښه ده چې ښه زړه راته تش کړي. ما لیده چې هغه سخته تر فشار لاندې ده او ما ته یې هم د ژوند د هر جنجال په اړه ډېرې کیسې وکړې.

یوه میاشت مخکې مې چې کله د پاسپورټ وخت تمدید کاوه، بیا مې هغه کیسه ذهن کې را یاد شوه. دا وار مې ډېر ښه سفر درلود، دا وار د یوې ډېرې مؤدبه ښځې خوا ته ناست وم چې په ډېر ښه ډول یې رانه د دندې او کار په اړه وپوښتل. لا مو دوه ساعته لار د ښکته کېدو ځای ته پاتې و او ډېره لار مو وهلې وه، خو دا وار مې هېڅ داسې احساس نه کاوه لکه دومره لرې ډېره لار مې چې وهلې وي، دې ښځې له پوښتنې پرته یوه بې ځایه او بې مورده خبر هم نه کوله. بس یوازې به ما ترې پوښتنې کولې او دې به په ډېر ښه ډول د هغه په اړه ځواب راکاوه.

د خپل کار او ژوند په اړه بې ځایه او بې مورده خبرې او له ژونده شکایت کول مو د ملګرې او هغه چا پر روان هم بد اغېز کوي، چې تاسې ورته خبرې کوی. دا منم چې هرڅوک په ژوند کې مشکلات لري او په یو ډول نه یو ډول له ژونده ځوربږي؛ خو د دې پر ځای چې تاسې نورو ته شکایت وکړی، ښه ده چې د شکایت کولو پر ځای د هغه د حل لپاره یوه دقیقه کار وکړئ.

که غواړی چې خوشاله ژوند وکړی، داسې چې هم مو کار او هم مو ژوند ته رسیده ګي وکړی، دغه لاندې کړنې عملي کړئ:

**۱-څوساعته کار کوی؟ولې؟رښتیاوواییئ**

ایا ستاسې د کار او دندې سرته رسولو لپاره دا ضرور ده، چې ډېر وخت په کارځای کې تېر کړی؟ یا دا چې په کارځای کې د ډېر وخت تېرېدو لپاره کوم بل دلیل لری؟ ایا دا څه مو د رییس او همکارانو د توجو جلبولو لپاره دي او که څنګه؟ یا خو به داسې نه وي چې په ټاکلي کار وخت کې مو کار پوره سر ته نه شی رسولی؟

**۲- د انرژۍ مصرف د وخت تر مصرف ډېر مهم دی**

د خپلې انرژۍ کچه مو د ورځې او اونۍ لپاره وسنجوئ. یوه ورځ له کارځایه یو څه وختي لاړ شی، څو مو یو څه انرژي باقي پاتې شي. همدا اوس څه احساس کوی چې څومره انرژي لری؟ څنګه کولای شی د هغه د کمېدو مخه ونیسی او لا یې زیاته کړی؟

**۳- هېچا ته چانس مه ورکوئ چې ستاسې وخت ضایع کړي**

داسې کسان شته چې د خپلو هیلو لاسته راوړلو لپاره ستاسې وخت نیسي؟ ایا مجبور یاستی چې ځینې کارونه هره ورځ وکړی؟ یا داسې کوم بد عادت لری چې ستاسې ډېر وخت نیسي؟ همدا هره یوه کړنه مو ښه و ارزوئ او د پرېښودو لپاره یې یوڅه وکړئ. که مو داسې وکړل، هره ورځ به یوازې هغه کارونه وکړئ چې تاسې ته ارزښت او لومړیتوب لري.

**۴- له یو همکار سره مو د دوستۍ اړیکه جوړه کړئ**

د دې پر ځای چې هره ورځ مو د کاري مسایلو په اړه د ژوند د ملګري خبرې پر سر یوسی، ښه ده چې په اونۍ کې مو د ژوند سختو مسایلو په اړه له یو نږدې همکار سره خبرې وکړئ.

زما یو نږدې دوست له خپل یو همکار سره د کاري مسایلو په اړه هره ورځ نیم نیم ساعت خبرې کوي او په دې اړه د هغه لارښوونې عملي کوي. باور مو وشه، هغه اوس ډېر ښه ژوند لري. تاسې هم همداسې وکړئ، باور وکړئ دې چارې زما په ګډون د ډېرو نورو کسانو ژوند هم جوړ کړی دی.

هغه ملګری مو څوک دی چې تاسې پرې دا باور کولی شی؟

**۵- له هغه وخته ښه ګټه واخلئ چې کار او دندې ته نه ځئ**

د خپلې رواني سلامتیا لپاره باید خپل کار د خپلې انرژۍ مطابق عیار کړئ. د خپلې انرژۍ د بېرته لاسته راوړلو لپاره باید په اونۍ کې هره ورځ نیم ساعت کار وکړئ. کله چې غواړی ځان ارام او خوشاله کړی، څه کوی؟ پیاده مزل کوی؟ چکر ته ځی؟ د ملګرو کره مو ورځی او یا هم د خپلې خوښې رسټورانټ ته ځی؟

**۶- دا هر وخت په یاد لری چې ژوند یوازې کار کول نه دي**

دا ډېره ښه ده چې له خپل کار سره مینه ولری، خو داسې نه چې خپل هویت مو د کار له زاویې نورو ته تعریف کړی. خپل ځان ته وخت ورکړئ او وګورئ چې اصلي موخې مو کومې دي. په خپل شخصي ژوند کې مو د بریا او موفقیت په اړه فکر وکړئ. که داسې وکړی، هم به مو کار او هم به له کار ورهاخوا د ژوند نورې چارې هم منظمې کړی.

څومره مو چې وس کېږي، هومره ښه ژوند وکړئ، په ژوند کې مو وړې وړې برياوې او د خوښۍ شېبې هم له لاسه مه ورکوئ، هره ورځ کوښښ وکړئ چې له همدې وړو برياوو خوند واخلئ، که څه هم دا ډېر واړه څیزونه وي، لکه: د خپلې خوښې وړ کافي څښل، د خوښې وړ عطر استعمالول، پیاده مزل کول، خپلو ماشومانو ته کتاب لوستل، له خپلې کورنۍ سره یو ځای ډوډۍ خوړل او یا هم یو بل کار. دا له تاسې سره مرسته کوي چې ارام او استراحته اوسی او خپله انرژي تر ډېره مهمو کارونو ته وسپموئ.

# سرچینې: طالبان د سولې هوکړې تر لاسلیک مخکې اوربند نه کوي

د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې مذاکراتو تر ځنډېدو دوې اونۍ وروسته، لاهم دواړه لوري د اوربند په اړه نهایي پرېکړې ته نه دي رسېدلي.

د سولې له مذاکراتو باخبره کسانو ویلي، د روانې اونۍ په پیل کې د قطر دفتر یو جګپوړی پلاوی له خپلو پوځي قوماندانانو سره د مشورو لپاره پاکستان ته تللی و، خو کومې پرېکړې ته نه دي رسېدلي.

یوې سرچینې د نوم نه ښودو په شرط ویلي چې د طالبانو مشر ملا هیبت الله له افغان حکومت سره له اوربنده انکار کړی دی.

یادې سرچینې ویلي: «د سولې مذاکراتو د ځنډېدو پر مهال طالب استازي له خپل مشرتابه سره په مشورو بوخت وو، مذکراتي پلاوي له خپل مشرتابه سره د اوربند موضوع شریکه کړې، خو د طالبانو مشر په دې ټینګار کړی چې لومړی دې له امریکا سره د سولې تړون لاسلیک شي».



په ورته وخت کې پخواني طالب چارواکي جلال الدين شینواري هم ویلي: «تاسو ته معلومه ده چې په دې وروستیو کې د طالبانو یو پلاوی د لس ورځني اوربند په تړاو د خپلو مشرانو سره په مشورو بوخت دی، خو تر دې مهاله یې پایله نه ده څرګنده شوې».

خو د افغانستان د سولې انسټېټیوټ رییس خلیل ساپي ویلي، چې د شهاب الدين دلاور په مشرۍ کوم پلاوی چې پاکستان ته تللی، لاهم له خپلو مشرانو سره د اوربند په تړاو پر سلا مشورو بوخت دی.

هغه ویلي: «د شهاب الدين دلاور په مشرۍ د طالبانو دری کسیزه پلاوی له خپلو مشرانو سره د مشورو په موخه پاکستان ته تللی، چې هیله ده په دې تړاو یوې هوکړې ته ورسېږي».

د طالبانو مشرتابه داسې مهال له افغان حکومت سره له اوربنده انکار کوي، چې افغان حکومت د سولې مذکراتو د پیل لپاره اوربند د شرط په توګه وړاندې کړی دی.

# عام وګړي: د بلخ په حوزوي روغتون کې ناسمو روغتیایي خدماتو له ستونزو سره مخ کړي یو

په مزارشریف کې د بلخ د حوزوي روغتون ځینې ناروغان او د هغوی پایوازان په یاد روغتون کې له ناسمو روغتیایي خدماتو شکایت لري.

دوی وایي چې په دغه روغتون کې روغتیایي مواد نشته او د عادي معایناتو او درملو لپاره هم ناروغان شخصي کلینیکونو ته راجع کېږي.

د بلخ د ولایتي شورا رییس هم وایي چې له یوه کال راهیسې د بلخ حوزوي روغتون چارې ټکنۍ شوې دي، چې له امله یې دغه شورا اندېښمنه ده.

دا په داسې حال کې ده چې د بلخ حوزوي روغتون د شمال زون په کچه تر ټولو ستر روغتیایي مرکز دی، چې د بلخ په ګډون د دغه زون له ټولو ولایتونو ورته ناروغان مراجعه کوي، خو له تېر شاوخوا یو کال راهیسې د بلخ د عامې روغتیا ریاست پر څوکۍ د جنجال له امله د دغه روغتون له خدماتو شکایتونه زیات شوي دي.

سید حیدر حسیني د سرپل ولایت اوسېدونکی دی چې نږدې یوه میاشت کېږي خپل یو ناروغ یې د بلخ حوزوي روغتون ته د درملنې په موخه راوستلی دی.

نوموړی زیاتوي چې زوی یې د بډوډو ستونزه لري او باید چې عملیات کړل شي. هغه وویل چې له یوې میاشتې انتظار وروسته یې ناروغ ته نوبت ور ورسېد او تېره اونۍ یې عملیات هم تر سره شول.

حسیني زیاته کړه چې د خپل ناروغ لپاره ټول درمل له روغتونه بهر په شخصي درملتونونو کې اخلي.

د هغه په خبره، د بلخ ملکي روغتون ډاکټران ډېری وخت په خپلو شخصي کلینیکونو او کتنځایونو کې مصروف وي او په ملکي روغتون کې ناروغانو ته پاملرنه نه کوي.

په ورته مهال د بلخ د ولایتي شورا رییس افضل حدید هم په بلخ ملکي روغتون کې د ستونزو د زیاتېدو شکایتونه تاییدوي.

هغه وویل چې د بلخ په حوزوي روغتون کې د خدماتو د ټکنیتوب ستر لامل د عامې روغتیا پر ریاست باندې رامنځ ته شوی جنجال دی چې له تېر یو کال راهیسې روان دی.

حدید زیاته کړې چې لا هم دغه ستونزه نه ده حل شوې چې له امله یې روغتیایي خدمات له ستونزو سره مخ شوي دي.

نوموړي تایید کړې چې د بلخ په ملکي روغتون کې له ناروغانو سره د ناسم چلند شکایتونه ورته رسېدلي او یاده شورا هڅه کوي چې د ولس ستونزې له سیمه ییزو چارواکو سره شریکې او حل کړي.

هغه له مرکزي حکومته هم وغوښتل چې د بلخ د عامې روغتیا ریاست پر سر رامنځ ته شوي جنجال ته د پای ټکی کېږدي.

له دې سره د بلخ د ملکي روغتون سرطبیب ډاکټر نورمحمد فیض بیا په یاده شفاخانه کې له ناروغانو سره د ډاکټرانو ناسم چلند نه تاییدوي. هغه ویلي چې د رییس په نشتون کې د بلخ د عامې روغتیا ریاست د سرپرست له خوا اداره کېږي او ټولې چارې په عادي ډول مخ ته ځي.

د ده په خبره، د بلخ ملکي روغتون د ټول شمال په کچه لوی روغتیایي مرکز دی چې د ناروغانو مراجعه ورته زیاته ده.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

